GLASSES FOR KIDS

# د کورنیو لپاره مالومات



STATE SCHOOLS' RELIEF

له دولتي ښوونځي سره مرسته (SSR) په ډېر ویاړ سره دا اعلانوي چې د ویکتوریا ایالتي حکومت سره په ګډه یو ځل بیا د ماشومانو لپاره د عینکو پروګرام (GFK) د 2024 تر 2027 پورې وړاندې کوي. د GFK موخه دا ده چې د لید په برخه کې د نیمګړتیاوو ختمول د ښوونیز مشارکت لپاره یو ممکن خنډ دی، له دې څخه په ډاډ سره چې له وړ زده کوونکو ملاتړ شوی او په خپلو لومړنیو کلونو کې په زده کړو کې بشپړ ګډون وکړي. GFK غواړي چې 770 لومړني او تخصصي ښوونځي وګوري او د مکتب له دورې مخکې څخه تر درېیم کال پورې تر 108,000 زده کوونکي د پروګرام په لړ کې د لید د لومړنۍ معاینې لپاره هدف وګرځوي. که اړتیا وه، د سترګو جامع معاینه او عینکې به ګډون کوونکو زده کوونکوته په وړیا توګه‌برابر شي.

**د QR کود سکن کړئ او ویې ګورئ د ماشومانو لپاره د عینکو ویډیو دلته**



**د لا زیاتو مالوماتو لپاره، مهرباني وکړئ له موږ سره همدا نن اړیکه ونیسئ!**


**Lisa MacKinven**

د پروګرام مدیره, د ماشومانو لپاره عینکې

**برېښنالیک:** glassesforkids@ssr.net.au

**له دولتي ښوونځي سره مرسته**

PO BOX 4525

Dandenong South VIC 3164


STATE SCHOOLS' RELIEF

VICTORIA State Government | Department of Education

## د ماشومانو لپاره د عینکو پروګرام څه ډول کار کوي؟

- د GFK شریکان او د سترګو مسلکي داکتران کوم چې د ستاسې د ښوونځي څخه لیدنه کوي او ستاسو ماشوم ته د لید د معاینه او که اړتیا وي، نورې ازموینې او د عینکي برابري کړي.
- ټولې ازموینې او معاینې به د ښوونځي په وقت کې بشپړې کېږي.

## زما ماشوم څنګه کولای شي چې د دې پروګرام برخه شي؟

- مهرباني وکړئ د رضایت فورمه او د سترګو د ډاکتر پوښتنلیک خپل ښوونځي ته په وخت تسلیم کړئ.

## زه به څنګه د خپل ماشوم پایلې ترلاسه کړم؟

- ستاسې ماشوم به د خپل لید د معاینې د پایلې په اړه یو لیک ترلاسه کړي، چې کور ته یی راوړي.

## که زما ماشوم عینکو ته اړتیا ولري، څه باید وشي؟

- که د سترګو ډاکتر ستاسې ماشوم ته د عینکو نسخه ورکړي، GFK به يي په وړیا ټوګه تاسو ته چمتو کړي.
- ستاسې ماشوم به دا فرصت ولري چې خپلې عینکې غوره کړي او په هماغه ورځ به يې د سترګو په لپاره برابرې شي.
- ستاسې ماشوم ته به یو لیک ورکړل شي چې تاسې ته دا ووايي، چې ولې د عینکو نسخه ورکړل شوې ده.

## څوک ګډون کولای شئ؟

- لومړني ښوونځي: وړکتون - د 3 کال زده کوونکي.
- مسلکيښوونځي: له 5 څخه تر 10 کلنۍ عمر درلودونکي زده کوونکي.

## ایا هغه ماشومان چې اوس عینکې په سترګو کوي د GFK برخه کېدلای شي؟

- هو، دوی يې کولای شي. که د دوی د عینکو موده له 12 میاشتو څخه کمه وي، مهرباني وکړئ د دوی د وروستۍ نسخې کاپي چمتو کړي، کهد لاسرسي وړ وي.
- کهستاسې ماشوم اوسمهال د کوم بل د سترګو د ډاکتر تر درملنې لاندې وي، مهرباني وکړئ هر ډول اړوند مالومات د سترګو د درملنې په پوښتنلیک کې شریک کړئ.

## ایا د هر ماشوم لپاره باید جلا فورمه تسلیم کړم؟

- هو، هر زده کوونکی باید لاسلیک شوې د رضایت فورمه او د سترګو د ډاکتر پوښتنلیک ولري.

## ایا باید د میډیکیر مشخصات چمتو کړم؟

- هو، هره معاینه چې د لیدنې په ورځ اړینه وي د میډیکیر لخوا به تادیه شي.
- په هر صورت، که ستاسې ماشوم د میډیکیر کارت ونه لري، دوی بیا هم کولای شي چې په پروګرام کې ګډون وکړي.

## که عینکې زیانمنې شي، څه به پېښ شي؟

- GFK به بیا یوه (1) جوړه نورې چمتو کړي، که د لومړي ځلپه عینکو باندې له 12 میاشتو څخه کمه موده تېره شوې وي.
- که دا بدیلې عینکې هم زیانمنې یا ورکې شوې، کورنۍ او/یا ښوونځي کولای شي چې اضافي عینکې له SSR څخه واخلي.

# 4 ساده ګامونه چې د ماشومانو لپاره د عینکو پروګرام یوه برخه وي...

1. د کورنیو لپاره د بروشر معلومات ولولئ
2. د رضایت فورمه او د سترګو د ډاکتر پوښتنلیک بشپړ کړئ
3. دواړې فورمې بېرته ښوونځي ته ورکړئ
4. ډاډمن شئ چې ستاسو ماشوم د لیدنې په ورځ په ښوونځي کې حاضر دی

